# د نور محمد تره کي په افسانو د اکتوبر ۱۹۱۷ د روسي انقلاب اثرات

# Influences of the Russian Revolution of 1917 on the Short Stories of Noor Muhammad Tarakai

نورالبصر امنّ[1]


## Abstract

October revolution started in Russia in 1917. It has deep influences on central Asia and South Asia. Similarly it greatly influenced the social life and thinking of the people of Afghanistan. In Afghanistan the actual founder of this revolution is Noor Muhammad Tarakai. Formally this revolution started in Afghanistan on 27 October 1978. Noor Muhammad Tarakai devoted his life to this revolution. That is why we can see the impacts of this revolution on his literary works and especially on his short stories. In this paper short stories of Noor Muhammad Tarakai. It will be discussed with special reference to the revolutionary themes.


Pukhtunkhwa Journal

[1] پي ایچ ډي، اسستنټ پروفیسر،پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون dr.aman@uom.edu.pk

کليدي الفاظ: نورمحمد ترکي،افساني،روسي،انقلاب،پښتو

ژوندون دَ مسلسل يُون اؤ حرکت نامه ده.په دې وجه مونږ په ژوند کښې روزانه دَ نوي پېښو ، حادثاتو،واقعاتو اؤ حالاتو سره مخامخ کېږو،اورو او وينو کۀ چرې مونږ د تاريخ پاڼي واړوو نو داسې ډېرې پېښې او واقعات به زمونږ مخې ته راشي چې هغې واقعياتو نه صرف په هغې وخت کښې خپل اثرات په ټولنه ثبت کړي دي بلکې تر ننه پورې يې اثرات راروان ښکاري.

دَ نړۍ پۀ ښکاره تاريخ کښې ډېر داسې تحريکونه اؤ انقلابونه راغلي دي چې هغې د خپل اثر انګېز اقداماتو په وجه ټوله دنيا د خپل اثر لاندې راوستې ده ـ پۀ دغه انقلاباتو کښې يو د روس دَ اکتوبر ۱۹۱۷ء انقلاب هم دے۔ دا انقلاب په تاريخ کښې دَ"انقلابِ روس" يا د "بالشويک انقلاب" په نوم هم يادېږي ـ

"معتبرو سياسي قاموسونو د انقلاب د کلمې مفهوم داسې بيان کړې، هغه مادي او معنوي فکتورونه چې دَ تاريخ پۀ بهير کې د يوه هېواد د ټولنيزو اړتياوو په دليل بنسټيز ارزښتونه رامنځ ته کړي او د واکمن رژيم د نسکورېدو لامل شي، انقلاب بلل کېږي ـ انقلاب د يوې ټولنې د سياسي او اقتصادي تشکيلاتو په بېخ بنا (زېربنا) کې د يو زور او اساسي بدلون په معنا دے"(۲)

آريانا دائرت المارف د اکتوبر د روسي انقلاب په حقله داسې وضاحت کوي ـ

"د اکتوبر سوسيالستي انقلاب په ۱۹۱۷ م ميلادي کال کښې وشو چې موخه يې د زارِ روس د حکومت له منځه وړل او پر ځائے يې د کمونستي رژيم واکمن کول وو"(۳)

د انقلاباتو د تاريخ دَ ټولو نه غټه واقعه يعني دَ روس انقلاب چې تقريباً څۀ د پاسه سل کاله يې پوره کېږي ،دا انقلاب د روسي کلېنډر مطابق په اکتوبر کښې شوې ؤ۔ په دې وجه دې ته دَ "اکتوبر انقلاب" وئيلې شي ـ ددې لوئے انقلاب مشري چونکې د بالشويک پارټۍ مشرانو کړې وه، پۀ دې وجه په تاريخ او سياسياتو کښې دا انقلاب دَ"بالشويک انقلاب" په نوم هم ياد شوے دے(۴).دَ پښتو يو متل دے "چې تنګ شي نو په جنګ شي" کۀ دَ دې تحريک پۀ شاليد کښې وګورو نو "د روس عوام پۀ يو داسې سرمايه دارانه نظام کښې تنګ شوي وو ، چې دغې نظام دهغوي نه د ژوند بنيادي حقونه هم تروړلي وو ـ ددې په نتيجه کښې يو داسې نظام مينځ ته راوړل وو، چې هغه د عوامو نمائنده نظام او حکومت وي ـ دَاکتوبر ۱۹۱۷ء په انقلاب کښې چې د روس سياسي مشران، فوجي سپاهيان او عوام په ګډه په مبارزه کښې شامل شو نو دغې مبارزې نه صرف په روس کښې يو عوامي ټولنيز ژوند ته دوام ورکړو بلکې ددې انقلاب اثرات په نورو قومونو هم تر ډېرلرې پورې وشول ـ چې اصل يې

"يو داسې ډول انقلاب چې دَکپيټلزم په ضد يا د طبقاتي نظام په خلاف او د خواري کښ، مظلوم او محکوم اولسونو په خوښه د ټولنيز مساوات،انصاف او د سماج د خبر ښېګړې په خاطر چې کوم عمل ښودل کېږي، هغې ته سوشلسټ نظام يا په لنډه توګه ورته سوشلزم وئيلې شي، داسې قسم انقلاب ته استعمار ضد يا د زېښونکي طبقې په خلاف د خوار، غريب، ځپلي او يا د محکوم اولس شعوري پاڅون هم وايي"(۵)

تر نورلسمې پېړۍ پورې انساني ژوند د ډېرو ستونزو سره مشت و ګرېوان وو،چې د وخت تېرېدو سره سره په خلقو کښې ګوره تعليمي،سياسي،اقتصادي او د ټولنيز ژوند شعور راتلو نو انقلاباتو ته هم لاره هوارېده ـ په دې وجه شلمه صدي عيسوي دَ انقلاباتو صدي شوه،چې ابتداء يې د روس نه شوې ده ـ

"لکه د ۱۹۰۵ء او ۱۹۱۷ءکښې دَ شوروي انقلاب، ۱۹۴۵ء ـ ۱۹۴۹ء کښې دَ چين انقلاب،د ويټ نام انقلاب، د الجزائر انقلاب، د کمپوچيا انقلاب،پۀ ۱۹۷۹ء کښې د افغان انقلاب ـــ پۀ

۱۹۷۹ء کښې دَ ایران انقلاب، خو پهٔ دې ټولو کښې د شوروي اؤ دَ چین انقلابونو ته ځکه ستر ارزښت حاصل دے ـ چې له دې څخه په وړومبي ځل، مزدور، بزګر، خواریکښ، مظلوم او باپرسانه اولس د اقتدار واګي خپلو نمائنده مشرانو ته په لاس کښې ورکړې"(۶)

دَ نورې دنیا په نسبت افغانستان ددې انقلاب د اثراتو نه زیات په دې متاثره شو چې دا ټوله لوبه د افغانستان په ګاونډ کښې وشوه ـ بله دا چې د روس سره دَ افغانستان اړیکې اؤ په روس کښې اؤ دَ روس په هم خیاله ملکونو کښې د افغاني ځوانانو زده کړې دې اثراتو ته زیات دوام ورکړو ـ د ژوند د نورو اړخونو نه علاوه په پښتو ادبیاتو هم ددې انقلاب اثرات په ښکاره ډول ښکاري ـ نو ځکه دې مقاله کښې د افغانستان د خلق ډیموکرېټک ګوند مشر او د افغانستان پخواني اولسمشر نورمحمد تره کي په افسانو ددې انقلاب د اثراتو جائزه پیش کولې شي ـ

د نور محمد ترکي پېژندګلو: نور محمد تره کي صرف یو سیاسي انسان نهٔ وو بلکې دَ هغهٔ پهٔ شخصیت کښې بلها خوبۍ وې،د بزګرۍ او مزدورۍ نه راواخله د دولت د وظیفو سره سره صحافتي او سیاسي شخصیت هم وو،خو د هغهٔ د ټولو نه ښکاره اړخ "ادبي" دے ، چې ادبي نړۍ کښې یې دَ یؤ ناول اؤ افسانه لیکونکي تل پاتې پېژند ګلو پیدا کړې ده۔

"نور محمد تره کي د نظرمحمد زوي د ۱۲۹۶ هـ ش کال د سرطان پر ۲۳ مه نېټه (جولائي ۱۹۱۷ء مېلادي) د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ د ناوې د سره کلي په یوه غریبه کوچي، بزګره کورنۍ کښې زېږدلی دی ـ نور محمد تره کي پهٔ داسې وخت کښې دنیا ته سترګې رونې کړې چې د اکتوبر ستر سوسیالیستي انقلاب مخکښانو د نړۍ د رنځېدلو خلګو پر پرهرونو ملهم ایښي وو او د خوریکښانو د هدفونو د پوره کولو او د سوسیالیستي ټولنې د جوړولو او ټولنیز عدالت د تامینولو ارمانونه د ګل په شان غوړېدلي وو ـ د نور محد تره کي ابائي او پلرنۍ کورنۍ د مالدارۍ او بزګرۍ او کله کله د کوچیتوب په ډول ژوند کاوه،د ژوند د تېرولو او دوام ورکولو په خاطر ئې ډېر سخت او درانهٔ کارونه زغملي دي"(۷)

دا هم یو عجیبه اتفاق ؤ چې د تره کي د پیدائش په کال هم دغه انقلاب تر سره کېږي ـ خو کهٔ مونږ ګورو نو افغان ټولنه هم پهٔ هغه زمانه کښې دَ یؤ داسې صورتحال نه تېرېدله چې پوهه او روشن فکره خلقو ته قابل قبول نهٔ وه ځکه چې پهٔ افغانستان کښې د غریب اولس ژوندپه څو خاصو سکنجو کښې ټینګ وهٔ ـ "د افغانستان پهٔ مضبوط قبائلي نظام کښې مُلا،پیر،خان او ملک یو بااثره او زوروره طبقه بللې شي، د دوي له مرضۍ پرته هیڅ یو نظام کله هم خپل وجود نهٔ شي ساتلے"(۸)

دا ټولې خبرې د نور محمد ترکي د ژوند پهٔ هر کړلیچ کښې دَ هغهٔ د احساساتو اؤ جذباتو سره مشت و ګریبان وې ـ د یو سیاسي او انقلابي سوچ سره سره هغه یو فنکار اؤ ادیب هم وهٔ او دغې ټولو ناوړو هڅو ته یې دَ ادب دَ افسانې اؤ ناول په صنف کښې علامتونه او تصویرونه ورکړل او د خلقو ذهنونو ته یې ورسولې ،تره کي د سیاسي هلو ځلو آغاز د "ویښ ځلمیانو غورځنګ" نه وکړو ـ

"داسې څرګندېږي چې د ویښ زلمیانو د پلویانو لومړۍ غونده په کال ۱۳۲۵ هـ ش ۱۹۴۶ء م کال کې جوړه سوې وه او په هغه کې تصمیم ونیول سو چې ملي سر تا سري سازمان دې جوړ سي ، چې ګډون کوونکي یې اکثره د کابل، جلال آباد او کندهار د روشنفکرانو استازي وو ـ ځني څېړونکي د کندهار یو وړوکي شتمن محمد رسول خان پښتون د ویښ زلمیانو د غورځنګ بنسټ اېښودونکي بولي او ځیني نور بیا په دې عقیده دي چې محمد رسول خان پښتون د کندهار د ویښ زلمیانو د څانګې مشر وو او د کابل د مرکزي هستې د ویښ زلمیانو رهروان او مشران عبدالروف بېنوا، نورمحمد تره کي، ګل پاچا الفت او قیام الدین خادم وه"(۹)

د ویښ زلمیانو د غورځنګ نه پس یې د خلق ډموکراټیک ګوند افغانستان په نوم یو سیاسي ګوند جوړ کړو په دې ګوند کښې زیات هغه کسان وو، چې د افغانستان نه بهر یې اعلیٰ تعلیم حاصل کړې وو او روشن فکره وو ـ (۱۰) ددې سیاسي هلو ځلو تر څنګ تره کي خپلې ادبي سرګرمۍ هم د خلقو د سیاسي شعور لپاره وقف کړې وې، د نوموړي سره د ادب لوړ فن هم ؤ چې په غیر مخصوصه طریقه ترې خپل مقصد په عوامو کښې خوروي ـ ترکي د خپلو سیاسي، انقلابي او طبقاتي افکارو دپاره د ادب داستاني صنف "ناول" او"افسانه" غوره کړه چې خپل مقصد یې په ډیره ښهٔ طریقه تر سره کړو ـ

"نوموړي په خپلو تخلیقي آثارو او لیکونو کښې کوښښ کوي، تر څو د خلکو واقعي ژوند او د ټولنیزو طبقاتي نابرابریو او عیبونو او نواقصو ته په واقعي او ریالیستي ډول سره انعکاس ورکړي، هغه د خپلو آثارو په لیکلو کښې د خاص طرز لرونکي ؤ، په خاصه توګه د ۱۳۲۹ هـ ش کال څخه راورسته یې د اثارو په لیکلو کې نوې هدف لرونکي طرز راڅرګند شو او پهٔ واقعي توګه ئي دَ خواریکښانو او پهٔ تېره بیا د هېواد په فیوډالي او د فیوډالۍ نه مخکښې مباسباتو کښې د بزګري طبقې د طبقاتي ژوند حالات منعکس او په عمومي توګه یې د افغاني ټولنې د ټولنیز ژوندانهٔ شکل کښلې دي"(۱۱)

د نوموړي د ادبي آثارو په حقله د محمدولي ځلمي قول دے چې،

"نور محمد ترکي د پښتو ژبې مشهور کیسه لیکونکے او لیکوال دي، هغه په خپلو اثارو کې د خلکو په ژبه د طبقاتي ټولنې دردونه،رنځونه،خوارۍ او ټولنیزې نابرابرۍ بیانولې"(۱۲)

د نورمحمد تره کي د مقالو یوکتاب دَ "بزګرلور" پهٔ نامه چاپ شوے دے چې په څوارلس افسانو مشتمله ده ـ دغه ټول افسانوي ادبیات د "ادب دپاره د ژوند" یؤ ښهٔ مثال دے ـ دې ټولو افسانو کښې په شعوري طور دَ طبقاتي نظام پهٔ ضد اؤ دَ غریب اولس دپاره آواز اوچت شوے ـ دَ روس د انقلاب هغه سلسله ده کومه چې د بالشویک غړو د مبارزې نه پس تر لاسه کړې ده، اؤ خپلو عوامو ته یې د ټولنیز ژوند یو داسې نظام ورکړو چې نوره دنیا هم ورته وپسخېده ـ

"د بزګر لور د استاد تره کي د لنډو کیسو ټولګه ده، چې د پښتو ادبي غورځنګ له خوا په لومړي ځل په ۲۰۱۰ م کال کې د زر (۱۰۰۰) توکه په تیراز چاپ شوه او بیا په دویم ځل په م کال کې د (۲۰۰۰) توکه په تیراژ کې چاپ شو په دغه کتاب کې هغه څوارلس لنډې کیسې چې ما په بېلا بېلو مجلو او کتابونو کې موندلې وې، په دې کتاب کښې ځاې کړې ، چې ترتیب یې په دې ډول وو ۱: د غوایي لاندې ۲: د بزګرلور ۳: زهٔ او زما ورور ۴: د نوي کال خوب ۵: د ادې خدمت ۶: موچي ۷: د کور کټه د لاهور ګټه ۸: زما برخه ۹: څوره جوړه شوه ۱۰: یو کاسه او درې ډوله خواړه ۱۱: کله به وي ۱۲:څهٔ رنګه بډایي سوم ۱۳: د سمڅ مور او پلار ۱۴: په پایي کې بډایي سو"(۱۳)

په دغه ذکر شوو افسانو کښې چې نورمحمد ترکي د خپل ځېلي او خوار اولس کوم تصویر جوړ کړے دے نو دې وئیلو کښې هیڅ باک نشته چې تره کي دَ خپلې ټولنې یو صحیح معالج وهٔ ،د وخت په نبض چې یې ګوتې ایښې دې نو چې کوم مرضونه یې نیولې دي نو د هغې د علاج لپاره یې په تهیورۍ کښې د "ادب" اؤ پهٔ پریکټیکل کښې د "سیاست" لاره غوره کړه چې نوموړي په دغه طریقه تشخیص او علاج کښې ډېر کامیاب ښکاري ـ

"اروابناد نورمحمد تره کي یؤ لیکوال اؤ دَ خپل ټولنیز چاپېریال یؤ انځور ګر دے ـ د هغه چاپېریال د ظلمونو، تیارو، لوټ دوکه ماریو، فریب اؤ غوړه مالیو، ناوړو دودونو اؤ له حقیقت څخه توهم ته دَ ورلوېدو چاپېریال دی ـ دی دَ همدغه چاپېریال برخلاف دَ حقیقت

په اوړو د رڼا لور ته خوځي"(۱۴)
د تره کي په افسانو کښې چې د انقلابِ روس له اثره اخستے شوے کوم خاص علامتونه، کردارونه، پيغامونه او خبرې په دې شان دي۔

## ځپلي اولس

دَ تره کي په ادبياتو کښې د ټولو نه مهمه نکته دا ده،هغه چې کومه خبره هم کوي نو نبغ په نبغه، علامتي طور، شعوري او لاشعوري طور هغه د خپل خوار افغان اولس د ستونزود ډک ژوند نه چاپېره چورلي۔

"د ارواښاد نور محمد تره کي ليکنې، لنډې او منځنۍ کيسې، ناولونه اؤ له بهرنيو آثارو ځخه پهٔ زړهٔ پورې ژباړنې او ټول قلمي کارونه چې يؤ نسل ګام پهٔ ګام دَ لوړېدو پهٔ لور خوځي، ټوله تومنه يې د انسان د نيکمرغی پهٔ لور دَ بد مرغيو پر خلاف د اوږدې جګړې يؤ دروند فصل دی ۔دَ هغه دَ ادبي کار اصلي سوره ستم اؤ کرکټر هغه انسان دی چې ظلم ، تېري ، ناروا اؤ محروميت درنې څپېرې يې خوړلي دي"(۱۵)

## بزګره طبقه:

تره کي چې پخپله په کومه کورنۍ کښې سترګې غړولې وې نو د هغوي ژوند هم د هغه خوار، مزدور او بزګرانو وو، چې زياتره افغان اولس د هغه قسمه ژوند نه تېرېدلو او تېرېږي۔ هم ددغې توارد نورې افساني هم دغه شان ليکلي شوې دي چې يو ښکاره مثال ئې د قلندر مومند "ګجرې" دے۔

"نور محمد تره کي په پښتو ادبياتو کښې لومړي ليکوال دی، چې د بزګرانو ژوند ته يې پام اړولی دی اؤ دَ افغانستان دَ غريبانانو دَ ژوندانه کړاوونه يې پهٔ رېښتوني اؤ پوهېدني وړ ډول انځور کړي دي"(۱۶)

پهٔ دې کتاب کښې نمائنده افسانه هم "د بزګر لور" ده او په دغې وجه د کتاب نوم هم د دې افساني په نوم "د بزګر لور" دے۔يوه بېلګه يې ځهٔ داسې ده۔

"د بختورې دريه پهٔ لاس اؤ پهٔ خوره خوشحالي سره دا وائي،

سبا اختر دے زما کالي کړه راته تور دوبي
له خياله ډکه يم غوټې ورکړه ځلور دوبي

پلار يې په بې انګړه خونه راننوت او بختورې سم د لاسه دريه يوې خوا ته کېښوده او ورمنډه يې کړه، د پلار پهٔ غاړه کې يې دواړه لاسونه ورواچول اؤ ورپورې ټال سوه،په ډېره مينه يې ورته اوويل"بابا جانه! اوس مې د خان لور اوليده چې په اوربل باندې يې درې لړۍ سپينې روپۍ قطار کړي وې اؤ هم يې ويل چې پلار ښهٔ امېل او يو سور پېزوان ورته بخښلي دي چې د اختر په سبا ځان پرې ښائسته کړي، نو دا ته ولې ماته ځهٔ شی نهٔ راوړې؟"(۱۷)

په دې افسانه کښې صرف دا نه چې په ماشومتوب کښې د بختورې ارمانونه قتل کېدل بلکې چې کله پېغله شوه نو هم دَ سود پهٔ پيسو کښې پهٔ زور د يو خان د کور مېرمن شوه اؤ پهٔ دې ناوړه کار کښې د مُلا اؤ ناظر لاس هم ککړ وو،او بختوره د بدبختيو کندې ته وغورځولې شوه ۔ دا زمونږ د چاپېرچل د هرې ورځې عکس دے چې نورمحمد تره کي په ډېره ښهٔ طريقه پهٔ دې افسانه کښې تصوير کړې دے،او د روس د اکتوبر د انقلاب کوششونه هم د دې د پاره کېدل چې د بزګرانو د ماشومانو ارمانونه هم د غټانو په شان پوره شي۔

## سود او ناجائزه منافع:

په کومه ټولنه کښې چې ماديت دَ خلقو پهٔ ذهنونو کښې پنجې ورښخې کړي، هلته بيا د تور او سپين تميز

ډېر په ګرانه کېږي،خلق صرف د زیاتي ګټي په تکل وي، او د دې دپاره د هر قسمه اخلاقي رویو،مذهبي پابندیو او دولتي قانون نه هم تېروي ـ هم دغه رنګ افغاني ټولنه هم له غربت د وجې د سود په ناوړه جرم کښې اخته وه او د خلقو د مجبورۍ نه به ناجائزه فائده اخستې شوه ـ ترکي دغه تصویر په یوه افسانه کښې داسې جوړ کړے دے ـ

> " د حمل د میاشتي اخره ده بیا سهار پر ناوې سره ناست دي پلار و مزر زوي ته وراېي چې "پرون خورا زوړ وو او خلګ نارامه غوندې معلومېدل" احوال دي نه په وسو چې علت یې څۀ ؤ؟ زوي یې خورا په ورین تندي او اعتماد ورته وویل چې،
> "پرون په منډیې کي نزدې ډېر خلګ مړه وو، ځکه چې غنم خورا ګران او بز سوي او نرخ هم په دې څو ورستیو ورځو کښې خورا ښۀ سوی دی، خو هغې اندازې ته لا نۀ دی رسېدلی چې باید ورسېږي"(۱۸)

## مزدور او کسب ګر:

پۀ کومه معاشره کښې چې د مزدور، کسبګر اؤ هنرمندو خلقو ډېر اهم او لوړ کردار وي، دا خلق په خپله خوَله او وینه د خلقو خدمت او د ټولني رغونه کوي، خو ددې باوجود چې دا کسب ګر د ټولني ضرورت دے، خلق نۀ صرف دوي ته په سپکه سترګه ګوري بلکې ددوي استحصال هم کوي، ځکه خو تر ه کی په زړۀ کښې دا ارمان لري چې "کله به وي" ـ ـ

"هغه ورځ چې د ټولو حرکت او فعالیت د یوه یا د دوو کسو د سعادت او ارامۍ لپاره نۀ وي او د مېلونو خلکو ثمر او خوله د څو تنو د عېش عشرت او سر لوړۍ لپاره مصرف نۀ سي بلکې د ټولو زحمت د ټولو د ښګڼې لپاره وي"(۱۹)

دا یو څو نمونې مشت نومونه خروار وه نور نه صرف د نور محمد تره کي افساني یا نور ادبیات بلکې د دغې دور په عمومي توګه د روشن فکره اؤ بیا په خاصه توګه په افغانستان کښې د "خلق" ګوند سره د وابسته ټولو غړو په شعوري طور پۀ ادب کښې دَ انقلاب اثرات خورول، چې رګ ریښه یې د روس د اکتوبر ۱۹۱۷ء د انقلاب سره لګېدله ـ

> "د افغانستان ځوان مترقي کهول چې د مارکسي ادب او د لینن د نظریاتو څخه زیات متاثره وو، هغوي غوښتل چې دلته په افغانستان کښې هم هغه شوروي د اکتوبر ۱۹۱۷ء په څېر یو بدلون ته لیاره جوړه کړي ـ له هغه کسانو څخه دغه رنګه سوچ او فکر یې درلودله هغو نه یو نور محمد تره کي صاحب هم وو، چې یې د خپل فکر په اساس ډېر ځوانان په دغه مفکوره وروزل ـ دا هغه ځوانان وو چې بالاخره په دې بریالي شول چې د افغانستان شاهي نظام له منځه یوسي ـ د ښاغلي نور محمد تره کي په ژوند د هغه د سیاسي او ادبي خدماتو په حواله دغه دوه کارونه لکه یو په افغانستان کښې د خلق ډیموکرټیک غوند تشکیل او بل ددۀ هغه ادبي خدمات چې د انقلاب تر مخه یې د انقلاب دپاره د لار هوارولو په غرض لیکلي وو، زیات د اهمیت وړ دي ـ د هغوي دغه ادبي پېرزویني کۀ یو خوا ته د انقلاب په بریالتوب کښې ستر او ګټه ور خدمات ترسره کړي ولي د هغه دغه ادبي هڅي په پښتو جدید ادب کښې د یادو وړ ستر ګام بللي شي ـ چې د هغه په واسطه په پښتو ادب کښې جدید مارکسي ادب په ویړیا رامخته کړي شو"(۲۰)

ددې ټولو تاریخي واقعاتو،حالاتو،شخصیاتو او ادبیاتو د سنجوني نه پس مونږ دې نتیجې ته رسو چې د روس د اکتوبر د انقلاب اثرات د نور محمد تره کي په افسانو او ادبیاتو ښۀ په بشپړه توګه شوې وو چې په نتیجه کښې یې د ویښ ځلمیانو غورځنګ، خلق ډیموکرېټک ګوند، او آوازِ خلق په وجود کښې راغلل چې افغانستان یې

د شاهي حکومت نه په جمهوري حکومت کښې بدل کړو۔ ددې اصلي وجه د تره کي هغه ادبيات وو چې په خلقو کښې يې د خپلواکۍ ، جمهوريت او خپل حق د غوښتو روح وپوکو ۔

نتيجه: د بالشويک تحريک د يوې صدۍ نه زياته موده اوشوه په دې يوه صدۍ کښې روس د دنيا سُپر طاقت جوړ شو،د ترقۍ د ډېرو پړاوونه نه راتېر شو خو افغاني ټولنه اوس هم په هغه ځاے ولاړه ده بلکې اخلاقي لحاظ سره نوره هم په شا تلې ده، ځکه چې مونږ په امروزه ژوند کښې وينو او ګورو چې زمونږ د ماشومانو،زنانوؤ،غريبانانو،معذورو،بې وسو،مزدورانو،دهقانانو د حقوقو استحصال هم هغسې روان دے ۔ او دغه وجه ده چې نه صرف نور محمد تره کي او د هغه وخت اديبانو او شاعرانو د دې خلاف آواز اوچت کړې دے بلکې د نن اديب هم لګيا دے د دې ناروا خلاف په ادبياتو کښې تر خپله وسه په خپل ليک کښې ځاے ورکوي او دا قلمي جهاد به هم دغسې جاري وي ۔په دغه تناظر کښې کۀ وګورو نو ترکي ادب د ژوند دپاره په نظريه کښې پوره پوره کامياب شوے دے بلکې يوه نوې نظريه يې په خپلو ادبياتو کښې پيش کړې ده چې "ادب د بې وسه خلقو د ښۀ ژوند په هېله" کۀ چرې په ادبياتو کښې داسې نظريات او خيالات مخې ته راشي نو لرې نه ده چې ټولنه د ادب د برکته په اخلاقي،تعليمي،سماجي او معاشي لحاظ سره مخ په وړاندې لاړه شي ۔

حوالې


۱ ـ آريانا دائرت المعارف، لومړے ټوک، د علومو اکېډمي افغانستان، ۲۰۰۷ء، مخ ۷۰۴

۲ ـ هم دغه، مخ ۷۰۵

۳ ـ پارس جان، پالشويک انقلاب اور آج کا عهد، ګوګل، نومبر ۷، ۲۰۱۶ء

۴ ـ وزير، نصرالله جان، ډاکټر"په پښتو ادب د ثور انقلاب اثرات"د پي ايچ ډي مقاله، پښتو څانګه، بلوچستان پوهنتون کوټه، بلوچستان، مخ ۱۱

۵ ـ هم دغه اثر، مخ ۳۲

۶ ـ اخګر، بشير، نور محمد تره کي، ژباړه حنيف يوسفي او عبدالاحد نهضت مل، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، ۲۰۱۱ء، مخ ۲۲

۷ ـ وزير، نصرالله جان، ډاکټر"په پښتو ادب د ثور انقلاب اثرات" مخ ۶۳

۸ ـ اخګر، بشر" نور محمد تره کي" پښتو ادبي غورځنګ کوټه، ۲۰۱۲ء مخ ۳۱

۹ ـ شېرزی، عطا محمد، د خلق د موکراتيک ګوند تاسيس، دانش کتابتون، قصه خوانۍ پېښور، ۲۰۰۳ء، مخ ۳۱

۱۰ ـ اخګر، بشير، نور محمد تره کي، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، ۲۰۱۲ء، مخ ۲۱۷

۱۱ ـ هم دغه اثر مخ ۲۱۷

۱۲ ـ ځلمي، محمد ولي بحواله بشير اخګر نور محمد تره کي، مخ ۲۱۷

۱۳ ـ ژړک، محمد صادق"د نور محمد تره کي داستاني کليات" پښتو ادبي غورځنګ شالکوټ، ۲۰۱۴ء، مخ ۱۰ او ۱۱

۱۴ ـ ش، حصين"نور محمد تره کي او د هغه هنري پنځونې"بحواله، داستاني کليات، مخ ۷۱۵

۱۵ ـ هم دغه اثر، مخ ۷۱۵

۱۶ ـ لېوال، شاه زار د کتور، د طلعت بېګ مصداقف د دکتوراتېزس، داستاني کليات، مخ ۷۱۵

۱۸ - تري کي، نور محمد"د کور کته د لاهور کته" داستاني کليات، مخ ۲۵
۱۹ - تره کي، نور محمد"د بزګر لور" داستاني کليات، مخ ۳۲
۲۰ - وزير، نصرالله جان، ډاکټر"په پښتو ادب د ثور انقلاب اثرات" مخ ۱۳۰،۱۳۱

Pukhtunkhwa Journal